1

# شمیر پوهنه

## د ښوونځي لپاره

(ریاضي په دري برخو کې)

**لومړۍ برخه**



Ketabton.com

لیکونکی:
برینکمن (له برینکمن ن ج څخه)
ژباړې: ډاکتر ماخان (میړی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شمیرپوهنه

## (ریاضي د ښوونځي لپاره )

په درې برخوکې




لومړۍ برخه

لیکونکی: پروفیسر برینکمن( له برینکمن ن ج څخه)

ژباړی: ډاکتر ماخان(میړی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

# د کتاب پيژند


د کتاب نوم ،،د ښوونځي لپاره شمير پوهنه ،، لومړۍ برخه

ليکونکی: پروفيسر برينکمن

ژباړی : ډاکتر ماخان ميړي شينواری

برېښناپته: makhanshinwari@gmail.com

د خپريدو لړۍ

خپرندوی : د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ نېټه جولای ۲۰۱۲

چاپځای: دانش کتابتون

Danishe2k2000@yahoo.com


د چاپ حقوق خپرندوي ټولنې او ليکونکي يا ژباړي سره خوندي دي.

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیوادوالو ته وړاندې کړې دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګانه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګواښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګواښونو په وړاندې به په نره ودرېږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیي له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وپښت شمیر پوهنې نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دی، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کته ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړې مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لرې. ماته د دوي د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهنې توانمندې ، مګر وروسته پاتې ژبې ويونکې ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمنې، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونده هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي ډپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي ډپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترماڼوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي ډپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسې زما د ملګري اروابناد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډپلوم انجنير او ډپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر څانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپرۍ څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړې.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي ښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسې مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار

۲۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک


د ژباړي سريزه الف

صفر. تکرار ۱

ماتګڼونه ياا کسري ا عداد

۱ . ۰ . ۱ . ۱ پيلبيلګه ۱

۰ . ۱ . ۲ ــکسر عدد ( مات يا ماتګڼ): ۲

۰ . ۱ . ۳ منفي (کميز) کسري عددونه ۲

۰ . ۱ . ۴ ګډوله عددونه ۳

۰ . ۱ . ۵ - لسميز اعشاريه کسرونه ۳

۰ . ۲ يو په بل اړونه ۴

۰ . ۲ . ۱ - تمرينونه ( ماتشميرنې ته) ۶

۰ . ۳ - د ماتونو يا کسرونو قوانين ۱۴

۰ . ۳ . ۹ - تمرينونه ۱۷

۰ . ۴ - درې جملې ته مفصل حل ۲۶

درې جملې ته پوښتنې ۲۹

۰ . ۵ - په سلو کې شميرنه ۴۰

۰ . ۵ . ۷ پوښتنې ۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


۰ . ۶ - د ګڼې شمیرنه ۵۲

۰ . ۶ . ۶ پوښتنې ۵۶

۰ . ۷ - ترمونه او د بینوم فرمولونه ۶۶

۰ . ۷ . ۲ - تمرینونه ۷۰

۰ . ۷ . ۳ تمرینونه ۸۰

۱ - سم اند یا منطق ۱۳۲

۱ . ۱ وینا ۱۳۲

۱ . ۲ وینا بڼه ۱۳۳

۱ . ۱ . ۱ - تمرینونه ۱۳۴

۱ . ۳ - د ویناو تړنه ۱۳۵

۲ - ډېرئ یا سټ ۱۴۳

۲ . ۱ د ډېرئ یا سټ انځورونه ۱۴۴

۲ . ۲ - ډ ډېرئ لیکندود په ... ۱۴۵

۲ . ۳ - پوښتنې ۱۴۶

۲ . ۴ – د ډېریو تړنه .... ۱۵۴

۲ . ۵ - ډېرئ او تنروالونه ۱۵۶

۲ . ۶ تمرینونه ۱۶۰

۳ - الجبري کلییمي ۱۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - ۱ توان او ريښه ۱۷۲

۴ . ۲ – پوښتنې ۱۸۰

۵ –کرښيز مساوات ۳۳۸

۶ - مساوات او نامساوات ۳۴۶

۷ - کرښيز مساوات شي پوښتنو ته ۳۴۹

۷ . ۱ پوښتنې ۴۱۵

۸ - مات-يا کسري مساوات ۴۱۹

۹ – لوګاريتم ۴۵۶

۹ . ۱ - پوښتنې ۴۷۲

۱۰ - ريښه او اکسپوننشل مساوات ۴۹۲

1.11 مربعمساوات ۴۹۹

12اکسپوننشل مساوات ۵۴۵

۱۲ . ۱ - پوښتنې ۵۶۸

1.13 کرښيز مساوات سيستم ..... ۶۰۸

.1.14اړيکې او فنکشنونه (توابع؟) ۶۳۷

1.15 فنکشنونه توابع ۶۴۴

۱۵ . ۲ پوښتنې ۶۵۹

۱۶ . ۱ فنکشنونه او په ځت .... ۶۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


17.ځمككچپو هنه(هندسه) ۶۹۲

۱۷ . ۱ لسز توانونه اوږدوای او سطحه ۶۹۲

۱۷ . ۲ - تمرينونه ۶۹۴

۱۷ . ۳ د د پيتاګوراس جمله ۷۰۶

۱۷ . ۴ تمرينونه ۷۰۷

۱۷ . ۵ - د سطحو شميرنه ۷۱۹

۱۷ . ۶ پوښتني ۷۲۰

۱۷ . ۷ ځانګړي کونجونه ۷۵۸

۱۷ . ۸ د حجمونو يا ډکيو شميرنه ۷۶۱

۱۷ . ۹ - ۹ د کونج جوړيدنه ۸۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف

---

# د ژباړي سريزه

ګرانو هيوادوالو او د شميرپوهنې مينه والو!

د ا څو کاله د مخه د ځنو شميرپوهنيزو کلمو په لټه کې د برينکمن د ن ج سره مخامخ شوم. دا چې دې ليکنې ښه خونديونه يا متن درلود او زيات تمرينونه د حل سره، نو ما وپتيله، چې دا په پښتو ته واړوم. دا يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې زده کوونکي ښوونکي او داسې لړ د شميرپوهنې سره بلد ميندې او پلرونه ترې ګټه اخستلی شي. په دې ليکنه کې هر څه خورا ښه روښانه شوي دي او په مختلفو بيلګو سمبال دي د حلونو يا اوبيونو سره، چې لوستنه يې هر د شميرپوهنې مينه وال لپاره د پيرځوينې وړ بولم.

کتتاب په درې برخو کې چاپيږي، چې هره برخه يې يوه خپلواکه او د يوې ځانګړې برخې خونديونه لري. زه په دې باور لرم، چې د شميرپوهنې مينه وال دا کارداسې لړ په غور وګوري، نو زر به ورسره مينه پيدا کړي.

دا کتابونه هم د هغو ۲۵ رياضي او لړ تر لړه دوه سياسي او ادبي کتابونو لړۍ ده، چې ما چاپ ته چمتو کړي دي، خو نه پوهيږم، چې څو دا نور به ترې کله چاپ شي. که څه پاتې شو، نو هغه به د دې کتابونو سره يوځای ن ج ته پورته کړم.

ګرانو لوستونکو!

دا زموږ د هيواد اړتيا لپاره په پوهنيزه اړخ کې په سره تيره اوبه تويول دي. دا کتابونه، کوم چې چاپيږي د زر دانو يا پنځه سوه څخه به نه اوړي، نو د يوه پنځوس ميليونه کمو زيات ولس لپاره زردا نې چې چاپيږي، دا خو اصلاً په شمير کې نه راځي،خو دا به په خروار ګڼو.

په لومړي کتاببرخه کې ځمککچپوهنه يا هندسه ورسره مل ده او په دويمه کتاببرخه کې مې وکتور شميرنه ورسره زياته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دریمه کتاببرخه مشتق او انتیګرال ته ځانګړې شوې.

ګرانو لوستونکو!

د برینکمن د لیکنو لړۍ د شمیرپوهنې په څانګه کې د ښوونځیو لپاره نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره راژباړلې.

دا احصایه یا ستاتیستک دی او د احتمالوالي شمیرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته یې تاسو ته ژباړه وړاندې کیږي، هم په زیاتو تمرینونو، اود دوی په اوبیونو یا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې لیکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کیږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهیدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوي.

ګرانو هیوادوالو!

داچې ما یوځای یا نوره هم ښه په یوه وار ډېر کار را ونیوه، نو هرومرو به ناټیکاوي زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وي، خو دا به داسې ناټیکاوي نه وي، چې شمیرپوهنیزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې امله له ستاسو څخه زما په ستونځو پوهیدلو له امله زیاته مننه.

په دې هیله ، چې زما په غوښتنو او ستونځو به و پوهیږي.

ډېرو ګرانو هیوادوالړ!

مننه:

له هر څه د مخه د دې لکچرونو لیکنو لیکونکو شمیرپوهانو یعنې ستر پروفیسور بریکمن څخه زیاته مننه، چې زموږ ولس ته به د دې کتاب ژباړې لپاره به تفاهم ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 0. تکرار

## 0.1. ماتونه(کسرونه)

### 0.1.1. پيلبيلګه

يوه کتره شوکولادې دې په څلورو کسانو و وېشل شي. هر يوه کس ته څلورمه برخه رسيږي..

د دې لپاره ليکو:

$$1:4 = \frac{1}{4}$$

| | | |
|---|---|---|
| ماتګڼ (کسری عدد) |  | صورت(ماتباندې<br>ماتکرښه<br>مخرج(ماتلاندې) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د وېشنې بيلګې:

| کسر (مات) | د کسانو تعداد(ګڼون) | د تختو تعداد(ګڼون) |
|---|---|---|
| $3:4=\frac{3}{4}$ | 4 | 3 |
| $7:9=\frac{7}{9}$ | 9 | 7 |

د وېشنې بيلګې:

| کسر (مات) | د کسانو تعداد(ګڼون) | د تختو تعداد(ګڼون) |
|---|---|---|
| $3:4=\frac{3}{4}$ | 4 | 3 |
| $7:9=\frac{7}{9}$ | 9 | 7 |

## 0.1.2.کسر يا د کسر عدد( مات يا ماتګڼ):

يو کسر يو عدد دئ د دې بڼې سره $=\frac{\text{صورت يا ماتباندي}}{\text{مخرج يا ماتلاندي}}$

صورت او مخرج تام اعداد ( ټولګڼونه) ( $\in Z$ ) او مخرج د صفر سره نامساوي ( $\neq 0$ ) دی

د کسر کرښه يا ماتکرښه د ويش سره په همغه - يا په يوه معنا ده.

## 0.1.3.-منفي کسری عدد(کميز ماتکڼ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د منفی کسری عدد (کمیز ماتګې) بیلګه:

$$(-1):4=\frac{-1}{4}=-\frac{1}{4}$$

0.1.2-کسرونه د اعدادو په کرښه( کښونکرښه) انځورېدلي شي:




.

## 0.1.4. ګډوله اعداد( ګنونه)

بیلګه:

$\frac{5}{3}=5.3=1$ باقي 2 ، نو $\frac{5}{3}=1\frac{2}{3}$

په څټ ( برعکس) $1\frac{2}{3}=\frac{1\cdot 3+2}{3}=\frac{5}{3}$

## لسمیز کسرونه ( اعشاریه که عشاریه؟ کسرونه، لسمیز ماتونه)

لسمیز کسر ( لسمیز مات) :

| | | |
|---|---|---|
| زرریز<br>سلیز<br>لسیز<br>یویز | ز س ل ي ل س ز<br>1 3 4 0 , 8 9 5 | زرمیز<br>سلمیز<br>لسمیز |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## لسمیز مات د کسر ودیزیيني د وېشنې له لارې :

$$1340,895 = 1340 + \frac{8}{10} + \frac{9}{100} + \frac{5}{1000}$$

-تعریف ( پیژند) لسمیز کسر (لسمیز مات) منځ ته راځي، کله چې کسر(مات) ووېشل شي.

که وېشنه پای ته ورسیږي، نو پای لسمیز کسر لاس ته اځي .

که وېشنه په یوه ټاکلي قانومندئ پرلپسې کې دوام پیدا کړي، نو بیا دا لسمیز کسر ناپای تل بیرته راګرځېدونی - یا ناپای پریودیکي لسمیز کسر بلل کیږي

## پای او ناپای پریودیکی (تل بیرته راګرځیدونی)

## لسمیز ماتونه(اعشاریه کسرونه)

دپای لسمیز کسر بیلګه: $\frac{1}{4} = 1:4 = 0,25$ $\frac{12}{5} = 12:5 = 2,4$

د نا پای لسمیز کسر بیلګه :

$\frac{1}{3} = 1:3 = 0,333... = 0,\overline{3}$ $\frac{8}{11} = 8:11 = 0,7272... = 0,\overline{72}$

## 0-2-یو په بل اړونه :

د لسمیز کسرونو اړونه په کسرونو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

0.تکرار ۵

---

$$2{,}245 = 2 + \frac{2}{10} + \frac{4}{100} + \frac{5}{1000} = 2 + \frac{200}{1000} + \frac{40}{1000} + \frac{5}{1000} =$$

$$= 2\frac{200+40+5}{1000} = 2\frac{245}{1000} = 2\frac{49}{200}$$

د ناپا پریودیکی (تل بیرته راګرځیدوني) لسمیز کسرونو اړول په کسرونو :

بیلګه 1 :

$$0{,}\overline{3} = -0{,}\overline{3}$$

$$,\overline{3} = 3{,}0 = 3$$

په 9 وېشنه $\frac{3}{9} = \frac{1}{3}$ $=$

بیلګه ۲ : $0.\overline{58} = ?$

$$1\cdot 0{,}\overline{58} = -0{,}\overline{58}$$

$$\cdot 0{,}\overline{58} = 58{,}00 = 58$$

$$\overline{58} = \frac{58}{99}$$

په 99 وېشنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه ۳

$$100\cdot 0,7\overline{4}=74,\overline{4}$$
$$-10\cdot 0,7\overline{4}=-7,\overline{4}$$
$$90\cdot 0,7\overline{4}=67,0=67$$

به 90 وېشنه: $\overline{4}=\frac{67}{90}$

1 0..2 .تمرینونه ( ماتشمیرنې ته)

لومړی: لاندې 10 کسرونه په لسمیز کسرونو واړوئ
لاندې کسرونه په لسمیز کسرونو واړوئ

الف- $\frac{2}{3}$ ب - $\frac{8}{9}$ پ - $5\frac{1}{2}$ ت - $7\frac{7}{11}$ ټ- $4\frac{16}{256}$

دویم: په کیلوګرام یې واړوئ او و یې شمیرئ:

$$2,5\,t+8\frac{1}{2}\,dz+1,55\,kg+0,25\,dz+0,3\,t+12,3\,kg$$

دریم: د سپین کورنئ د ورځې $1\frac{3}{4}$ لیتره شیدې ته اړتیا لری

الف- د کال مصرف یې څومره جک دئ؟
ب- د کال مصرف یې څومره جګ دئ، که یو لیتر شیدې € 0,79 قیمت ولري؟

څلورم: یو د اوبو مرطبان $43\frac{1}{2}$ لیتره اوبه ځایوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 0.تکرار ۷

له دې ځخه6 بوتلونه هریو0,75 لیتره او 9 بوتلونه هر یو0,7 لیترونه ډکیږي.
په مرطبان کې نورې څو لیتره اوبه پاتې کیږي؟ .
پنځم: $a < b$ , $a > b$, $a = b$ چیرته چې a او b دواړه کسرونه انځوروي

الف ـ $\frac{2}{6};\frac{2}{9}$ ب ـ $1;\frac{1}{2}$ پ ـ $\frac{3}{4};\frac{5}{7}$ ت ـ $\frac{1}{2};\frac{2}{5}$ ټـ $\frac{7}{9};\frac{11}{10}$

شپږم: وشمیرئ

الف ـ $\frac{1}{2}+\frac{2}{3}$ ب ـ $\frac{1}{4}-\frac{1}{6}$ پ ـ $\frac{1}{2}-\frac{1}{4}+\frac{1}{8}-\frac{1}{10}$ ت ـ $\frac{7}{8}-\frac{2}{7}-\frac{1}{4}$

اوم:وشمیرئ

الف ـ $7\frac{1}{2}-3\frac{1}{4}$ ب ـ $3\frac{2}{3}+2\frac{2}{6}-4\frac{4}{9}$ پ ـ $9\frac{2}{5}+1\frac{1}{3}-4\frac{5}{6}$

اتم:وشمیرئ

الف ـ $4\cdot\frac{1}{8}$ ب ـ $\frac{4}{5}\cdot 2$ پ ـ $1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)$ ت ـ $4:\frac{1}{2}$ ټـ $4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}$

نهم:وشمیرئ:

الف ـ $\frac{4}{5}-3\frac{1}{10}$ ب ـ $6\frac{4}{5}-3\cdot\frac{1}{2}+2\cdot\frac{1}{3}$ پ ـ $\frac{5}{8}:\frac{1}{2}+1\frac{5}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9}{14}:\frac{3}{7}$

لسم:وشمیرئ:

الف ـ $-19+(0,5+1,75)\cdot 4$ ب ـ $\left(1,\bar{3}\cdot 3-\frac{1}{2}\right):7$ پ ـ $\frac{3}{4}:\frac{5}{7}$

ت ـ $\left(2,\bar{6}-\frac{1}{3}\right):\left(-1\frac{1}{3}+0,\bar{3}\right)$ ټـ $12\cdot\frac{1}{3}+12\cdot\frac{1}{4}-7$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ث- $\left(1,\bar{3}\cdot 9-\frac{9}{3}\right):3+\left(-\frac{1}{2}+2\right)$

مفصل حلونه(اوبیونې)

لومړی:

الف - $\frac{2}{3}=2:3=0,66666...=\underline{\underline{0,\bar{6}}}$

ب - $\frac{8}{9}=8:9=0,88888...=\underline{\underline{0,\bar{8}}}$

پ - $5\frac{1}{2}=5+\frac{1}{2}=5+1:2=5+0,5=\underline{\underline{5,5}}$

ت - $7\frac{7}{11}=7+\frac{7}{11}=7+7:11=7+0,636363...=7+0,\overline{63}=\underline{\underline{7,\overline{63}}}$

ټ- $4\frac{16}{256}=4+\frac{16}{256}=4+\frac{1}{16}=4+1:16=4+0,0625=\underline{\underline{4,0625}}$

دویم:

$2,5\,t=2,5\cdot 1000\,kg=2500\,kg$

$8\frac{1}{2}dz=8,5\cdot 100\,kg=850kg$

$0,25\,dz=0,25\cdot 100kg=25kg$ $\qquad 1t=1\,Tonne=1000\,kg$

$0,3\,t=0,3\cdot 1000\,kg=300kg$ $\qquad 1dz=1\,Doppelzentner=100kg$

1dzیو ډبل لسی (100 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$2,5\,t + 8\frac{1}{2}\,dz + 1,55\,kg + 0,25\,dz + 0,3\,t + 12,3\,kg$$

$$= 2500\,kg + 850\,kg + 1,55\,kg + 25\,kg + 300\,kg + 12,3\,kg = \underline{\underline{3688,85\,kg}}$$

یادونه : په پورته کيDoppelzentner د دبل لسو په معنا دی، یعني سل.

دريم-

الف-

$1\frac{3}{4}\,Liter = 1,75\,Liter$ یو کال 365 روځې لری

د شودو د کال مصرف دی: $t\;365 \cdot 1,75\,Liter = \underline{\underline{638,75\,Liter}}$

ب - یو لیتر شیدې 0,79 € قیمت لری. د شودو قیمت به یو کال کې دی:

$$638,75 \cdot 0,79€ = \underline{\underline{504,61€}}$$

څلورم-

$$43\frac{1}{2}\,Liter = 43,5\,Liter$$

له دې څخه $6 \cdot 0,75\,Liter = 4,5\,Liter$ او

کمیږی $\mid 9 \cdot 0,7\,Liter = 6,3\,Liter.$

به مرتبان کې $43,5\,Liter - 4,5\,Liter - 6,3\,Liter = 32,7\,Liter$ اوبه پاتې کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پنځم-

د دې لپاره چې کسرونه سره پرتله کړای شو، باید هغه همغه نومیز کړو یعنې ګډ

مخرج( ماتلاندې) یې ونیسو:

غوره یادونه: که ولرو، HN نو د دز لاندې مورږ تل اصلی مخرج پوهیږو.

الف -
$$\frac{2}{6};\frac{2}{9}\Rightarrow HN=36\Leftrightarrow\frac{6\cdot 2}{6\cdot 6};\frac{4\cdot 2}{4\cdot 9}\Leftrightarrow\frac{12}{36};\frac{8}{36}\Rightarrow\frac{12}{36}>\frac{8}{36}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{2}{6}>\frac{2}{9}}}$$

ب -
$$1;\frac{1}{2}\Rightarrow HN=2\Leftrightarrow\frac{2\cdot 1}{2\cdot 1};\frac{1}{2}\Leftrightarrow\frac{2}{2};\frac{1}{2}\Rightarrow\frac{2}{2}>\frac{1}{2}\Leftrightarrow\underline{\underline{1>\frac{1}{2}}}$$

پ -
$$\frac{3}{4};\frac{5}{7}\Rightarrow HN=28\Leftrightarrow\frac{7\cdot 3}{7\cdot 4};\frac{4\cdot 5}{4\cdot 7}\Leftrightarrow\frac{21}{28};\frac{20}{28}\Rightarrow\frac{21}{28}>\frac{20}{28}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{3}{4}>\frac{5}{7}}}$$

ت -
$$\frac{1}{2};\frac{2}{5}\Rightarrow HN=10\Leftrightarrow\frac{5\cdot 1}{5\cdot 2};\frac{2\cdot 2}{2\cdot 5}\Leftrightarrow\frac{5}{10};\frac{4}{10}\Rightarrow\frac{5}{10}>\frac{4}{10}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{1}{2}>\frac{2}{5}}}$$

ټ-

$$\frac{7}{9};\frac{11}{10}\Rightarrow HN=90\Leftrightarrow\frac{10\cdot 7}{10\cdot 9};\frac{9\cdot 11}{9\cdot 10}\Leftrightarrow\frac{70}{90};\frac{99}{90}\Rightarrow\frac{70}{90}<\frac{99}{90}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{7}{9}<\frac{11}{10}}}$$

شپږم:

که کسرونه یو په بل زیاتوو یا یو له بل کموو، باید دا مخ له مخه همنومیز شی یعنی د هر

څه لومړی یې باید اصلی مخرج ( اصلی ماتلاندې) و ټاکل شی

په لاندې کې او وروسته په هر ځای کېHN د اصلي مخرج یا اصلي ماتلاندې په معنا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف – $\frac{1}{2}+\frac{2}{3}\quad HN=6\Rightarrow\frac{1\cdot3}{2\cdot3}+\frac{2\cdot2}{3\cdot2}=\frac{3}{6}+\frac{4}{6}=\frac{3+4}{6}=\frac{7}{6}=1\frac{1}{6}$

ب - $\frac{1}{4}-\frac{1}{6}\quad HN=12\Rightarrow\frac{1\cdot3}{4\cdot3}-\frac{1\cdot2}{6\cdot2}=\frac{3}{12}-\frac{2}{12}=\frac{3-2}{12}=\frac{1}{12}$

پ –

$$\frac{1}{2}-\frac{1}{4}+\frac{1}{8}-\frac{1}{10}\quad HN=40\Rightarrow\frac{1\cdot20}{2\cdot20}-\frac{1\cdot10}{4\cdot10}+\frac{1\cdot5}{8\cdot5}-\frac{1\cdot4}{10\cdot4}$$

$$=\frac{20}{40}-\frac{10}{40}+\frac{5}{40}-\frac{4}{40}=\frac{20-10+5-4}{40}=\frac{11}{40}$$

ت – $\frac{7}{8}-\frac{2}{7}-\frac{1}{4}$

اصلي مخرج يا ماتلاندي = 56له دي لاس ته راځي:

$$\Rightarrow\frac{7\cdot7}{8\cdot7}-\frac{2\cdot8}{7\cdot8}-\frac{1\cdot14}{4\cdot14}=\frac{49}{56}-\frac{16}{56}-\frac{14}{56}=\frac{49-16-14}{56}=\frac{19}{56}$$

اوم -

که کسرونه يو په بل زياتوو يا يو له پل کموو، بايد دا مخ له مخه همنوميز شی يعنی د هر ځه له مخه يې بايد اصلی مخرج (HN اصلی ماتلاندې) و ټاکل شی

الف - $7\frac{1}{2}-3\frac{1}{4}=\frac{15}{2}-\frac{13}{4}\quad HN=4\Rightarrow\frac{30}{4}-\frac{13}{4}=\frac{30-13}{4}=\frac{17}{4}=4\frac{1}{4}$

ب –

$$3\frac{2}{3}+2\frac{2}{6}-4\frac{4}{9}=\frac{11}{3}+\frac{14}{6}-\frac{40}{9}\quad HN=18\Rightarrow\frac{66}{18}+\frac{42}{18}-\frac{80}{18}=\frac{28}{18}=\frac{14}{9}=1\frac{5}{9}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



--------------------------------------------------------------------------------

پ –

$$9\frac{2}{5}+1\frac{1}{3}-4\frac{5}{6}=\frac{47}{5}+\frac{4}{3}-\frac{29}{6} \quad HN=30 \Rightarrow \frac{282}{30}+\frac{40}{30}-\frac{145}{30}=\frac{177}{30}=\frac{59}{10}=5\frac{9}{10}$$

تم- مفصل حلونه:

الف- $$4\cdot\frac{1}{8}=\frac{4}{1}\cdot\frac{1}{8}=\frac{4\cdot 1}{1\cdot 8}=\frac{4}{8}=\frac{1}{2}$$

ب - $$\frac{4}{5}\cdot 2=\frac{4}{5}\cdot\frac{2}{1}=\frac{4\cdot 2}{5\cdot 1}=\frac{8}{5}=1\frac{3}{5}$$

پ - $$1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)=\frac{5}{3}\cdot\left(-\frac{7}{2}\right)=-\frac{5}{3}\cdot\frac{7}{2}=-\frac{5\cdot 7}{3\cdot 2}=-\frac{35}{6}=-5\frac{5}{6}$$

ت - $$4:\frac{1}{2}=\frac{4}{1}:\frac{1}{2}=\frac{4\cdot 2}{1\cdot 1}=\frac{8}{1}=8$$

ټ - $$4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}=\frac{29}{6}:\frac{11}{9}=\frac{29\cdot 9}{6\cdot 11}=\frac{29\cdot 3}{2\cdot 11}=\frac{87}{22}=3\frac{21}{22}$$

نهم- مفصل حلونه:

الف - $$\frac{4}{5}-3\frac{1}{10}=\frac{4}{5}-\frac{31}{10}=\frac{8}{10}-\frac{31}{10}=\frac{8-31}{10}=-\frac{23}{10}=-2\frac{3}{10}$$

ب –

$$6\frac{4}{5}-3\cdot\frac{1}{2}+2\cdot\frac{1}{3}=\frac{34}{5}-\frac{3}{2}+\frac{2}{3}=\frac{204}{30}-\frac{45}{30}+\frac{20}{30}=\frac{204-45+20}{30}=\frac{179}{30}=5\frac{29}{30}$$

پ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{5}{8}:\frac{1}{2}+1\frac{5}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9}{14}:\frac{3}{7}=\frac{5\cdot2}{8\cdot1}+\frac{12}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9\cdot7}{14\cdot3}$$
$$=\frac{5}{4}+\frac{12}{4}-\frac{3}{2}=\frac{5}{4}+\frac{12}{4}-\frac{3}{2}=\frac{17}{4}-\frac{6}{4}=\frac{11}{4}=2\frac{3}{4}$$

لسم-

الف- $-19+(0,5+1,75)\cdot4=-19+2,25\cdot4=-19+9=-10$

ب-

$$\left(1,\bar{3}\cdot3-\frac{1}{2}\right):7=\left(1\frac{1}{3}\cdot3-\frac{1}{2}\right):7=\left(\frac{4}{3}\cdot3-\frac{1}{2}\right):7=\left(4-\frac{1}{2}\right):7$$
$$=\left(\frac{8}{2}-\frac{1}{2}\right):7=\frac{7}{2}:7=\frac{7}{2}:\frac{7}{1}=\frac{7\cdot1}{2\cdot7}=\frac{1}{2}$$

پ - 
$$\frac{\frac{3}{4}}{\frac{5}{7}}=\frac{3\cdot7}{4\cdot5}=\frac{21}{20}=1\frac{1}{20}$$

ت –

$$\left(2,\bar{6}-\frac{1}{3}\right):\left(-1\frac{1}{3}+0,\bar{3}\right)=\left(2\frac{2}{3}-\frac{1}{3}\right):\left(-\frac{4}{3}+\frac{1}{3}\right)$$
$$=\left(\frac{8}{3}-\frac{1}{3}\right):\left(-\frac{3}{3}\right)=\frac{7}{3}:(-1)=-\frac{7}{3}=-2\frac{1}{3}$$

ټ - $12\cdot\frac{1}{3}+12\cdot\frac{1}{4}-7=\frac{12}{3}+\frac{12}{4}-7=4+3-7=0$

ث-

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\left(1,\bar{3}\cdot 9-\frac{9}{3}\right):3+\left(-\frac{1}{2}+2\right)=\left(1\frac{1}{3}\cdot 9-3\right):3+\left(-\frac{1}{2}+\frac{4}{2}\right)$$
$$=\left(\frac{4}{3}\cdot 9-3\right):3+\frac{3}{2}=\left(\frac{4\cdot 9}{3}-3\right):3+\frac{3}{2}=(12-3):3+\frac{3}{2}$$
$$=9:3+\frac{3}{2}=3+\frac{3}{2}=\frac{6}{2}+\frac{3}{2}=\frac{9}{2}=\underline{\underline{4\frac{1}{2}}}$$

## 0.3.د کسرونو قوانین

### 0.3.1.لنډونه:Kürzen

لنډونه : کسرونه لنډيږي که صورت او مخرج د همغه عدد سره ووېشل شي.

بیلکه :

$$\frac{2}{6}=\frac{2:2}{6:2}=\frac{1}{\underline{\underline{3}}}\qquad \frac{9}{3}=\frac{9:3}{3:3}=\frac{3}{1}=\underline{\underline{3}}$$

### 0.3.2.غزونه Erweitern:

کسسرونه غزيږي ، که صورت او مخرج د همغه عدد سره ضرب شي

بیلکه:

$$\frac{2}{5}=\frac{2\cdot 2}{5\cdot 2}=\frac{4}{\underline{\underline{10}}}\qquad \frac{3}{7}=\frac{3\cdot 3}{7\cdot 3}=\frac{9}{\underline{\underline{21}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

برابر – یا همغه نومیز کونه( په یوه مخرج کونه یا د ګډ مخرج(ماتلاندې( جوړونه)

په ګډ مخرج کونه: دوه یا ډیات کسرونه( ماتونه) برابرنومیز کیږی یا په کډ مخرج کیږی، داسز چې دا وغزول شی او دا بالاخره پراپر مخرج ولری..

دامخرح اصلی مخرج هم بلل کیږی او د (HN) سره یې ښایو.

دا د یوګونو مخرجونو اصلی مخرج یا خورا کوچنی ګډ زیاتځلی یا مضرب ( ذو الاضعاف الاقل scm) دی.

بیلګه:

$$\frac{2}{3} \Rightarrow \frac{2 \cdot 4}{3 \cdot 4} = \frac{8}{12}$$

$$\frac{3}{4} \Rightarrow \frac{4 \cdot 3}{4 \cdot 3} = \frac{9}{12}$$

ځکه چې ذوالاصعافالاقل scm $(3;4) = 12$ ، دی

## 0.3.3.د کسرونو جمعه (زیاتون) :

دوه یا ډېر کسرونه یو په بل زیاتوو داسې چې دا له مخه همنومیز شی یعنی د هر ځه له مخه یې باید اصلی مخرج ( اصلی ماتلاندې) و ټاکل شی او په پای کې یې صورتونه سره جمعه شي.

بیلګه:

$$\frac{2}{3} + \frac{3}{4} \Rightarrow HN = 12 \Rightarrow \frac{2 \cdot 4}{3 \cdot 4} + \frac{3 \cdot 3}{4 \cdot 3} = \frac{8}{12} + \frac{9}{12} = \underline{\underline{\frac{17}{12}}}$$

په پورته کې هم HN اصلی مخرج دی.

## 0.3.3.د کسرونو تفریقول(د ماتونو کمونه):

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

تفریق یا کمون: دوه یا زیات کسرونه یو له بل کمیږی، داسې چې دا مخ له مخه همنومیز شی یعنی د هر څه له مخه یې باید اصلی مخرج ( اصلی ماتلاندې) و ټاکل شی او بالاخره صورتونه کم یا منفی کړی.

بیلګه:

$$\frac{3}{4}+\frac{2}{3}\Rightarrow HN=12\Rightarrow\frac{3\cdot3}{4\cdot3}-\frac{2\cdot4}{3\cdot4}=\frac{9}{12}-\frac{8}{12}=\underline{\underline{\frac{1}{12}}}$$

## 0.3.4.د کسرونو ضرب (څل)

کسرونه سره ضربیږی، داسې چې صورت له صورت سره او محرج له مخرج سره ضرب شی.

بیلګه:

$$\frac{3}{2}\cdot\frac{2}{5}=\frac{3\cdot2}{2\cdot5}=\frac{6}{10}=\underline{\underline{\frac{3}{5}}}$$ یا $$\frac{a}{b}\cdot\frac{c}{d}=\underline{\underline{\frac{a\cdot c}{b\cdot d}}}$$ .

## 0.3.6.د کسرونو ویش

وېش: دوه کسرونه وېشل کیږی، داسې چې لومړی کسر د دویم کسر د به برعکس ارزښت ( په څټ ارزښت) سره ضرب شی.

بیلګه: $$\frac{2}{3}:\frac{2}{5}=\frac{2\cdot5}{3\cdot2}=\frac{10}{6}=\underline{\underline{\frac{5}{3}}}$$ یا $$\frac{a}{b}:\frac{c}{d}=\underline{\underline{\frac{a\cdot d}{b\cdot c}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## 0.3.7. ډبل کسرونه

**ډبل کسر:** یو ډبل کسر بل څه نه دی پرته د کسر ویشني څخه.

بیلګه:

$$\frac{\frac{3}{4}}{\frac{5}{6}}=\frac{3\cdot 6}{4\cdot 5}=\frac{18}{20}=\frac{9}{10}$$ یا $$\frac{\frac{a}{b}}{\frac{c}{d}}=\frac{a\cdot d}{b\cdot c}$$ ځکه چې $$\frac{\frac{a}{b}}{\frac{c}{d}}=\frac{a}{b}:\frac{c}{d}=\frac{a\cdot d}{b\cdot c}$$

ډبل کسرونو ته نورې یادونې یا پاملرنې:

د حل قاعده: یو ډبل کسر په کسر بدلیږی، داسې چې د لومړی کسر صورت د دویم کسر د مخرج سره ضرب شی، چې دا د نوی کسر صورت جوړوی.

د لومړی کسر مخرج د دویم کسر د صورت سره که ضرب شی، نو د دویم کسر مخرج راکوی.

$$\frac{\frac{3}{4}}{\frac{5}{6}}=\frac{3\cdot 6}{4\cdot 5}=\frac{18}{20}=\frac{9}{10}$$

که ډبل مات یا کسر پوره نه وی، نو کیدی شی د 1عدد په استعمال پوره شی

$$\frac{\frac{3}{4}}{5}=\frac{\frac{3}{4}}{\frac{5}{1}}=\frac{3\cdot 1}{4\cdot 5}=\frac{3}{20}$$ یا $$\frac{3}{\frac{5}{6}}=\frac{\frac{3}{1}}{\frac{5}{6}}=\frac{3\cdot 6}{1\cdot 5}=\frac{18}{5}=3\frac{3}{5}$$

## 0.3.9.تمرینونه ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لومړی- لاندې ماتونه یا کسرونه په لسمیزو کسرونو واړوئ

الف- $\frac{2}{3}$ ب - $\frac{8}{9}$ پ - $5\frac{1}{2}$ ت - $7\frac{7}{11}$ ټ - $4\frac{16}{256}$

دویم: په کیلوګرام kg یې واړوئ او ویې شمیرئ

$$2,5\,t + 8\frac{1}{2}\,dz + 1,55\,kg + 0,25\,dz + 0,3\,t + 12,3\,kg$$

دریم: د سپین کورنۍ د ورځې $1\frac{3}{4}$ Liter لیتره شودو ته اړتیا لري

الف کلنی مصرف څومره دی

ب :کلنی ارزښت یا قیمت څومره دی، که یو لیتر شوده € 0,79 قیمت ولري؟

څلورم: یو د شودو مرتبان $43\frac{1}{2}$ Liter ٬ لیتره شوده خوندې کولای شي

له دې څخه 6 بوتلونه، چې هریو0,75 لیتره دی،9 بوتلونه، چې هر یو یې 0,7 لیتره دی، ډکیږی. نورې په مرطبان کې څومره اوبه پاتې کیږی؟

پنځم: – لاندې کسرونه نسبت و لویوالې ته سره پرتله کړئ. ولیکئa < b , a > b یا ، a = b، چیرته چې a اوb هر یو دواړه کسرونه انځوروی.

الف- $\frac{2}{9};\frac{2}{6}$ ب - $\frac{1}{2};1$ پ - $\frac{5}{7};\frac{3}{4}$ ت - $\frac{2}{5};\frac{1}{2}$ ټ - $\frac{11}{10};\frac{7}{9}$

6 : وشمیرئ

الف- $\frac{1}{2}+\frac{2}{3}$ ب - $\frac{1}{4}-\frac{1}{6}$ پ - $\frac{1}{2}-\frac{1}{4}+\frac{1}{8}-\frac{1}{10}$ ت - $\frac{7}{8}-\frac{2}{7}-\frac{1}{4}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اوم -و شمیرئ:

الف- $7\frac{1}{2}-3\frac{1}{4}$ ب - $3\frac{2}{3}+2\frac{2}{6}-4\frac{4}{9}$ پ - $9\frac{2}{5}+1\frac{1}{3}-4\frac{5}{6}$

اتم- وشمیری

الف- $4\cdot\frac{1}{8}$ ب - $\frac{4}{5}\cdot 2$ پ - $1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)$ ت - $4:\frac{1}{2}$ ټ - $4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}$

نهم- وشمیری

الف- $\frac{4}{5}-3\frac{1}{10}$ ب - $6\frac{4}{5}-3\cdot\frac{1}{2}+2\cdot\frac{1}{3}$ پ - $\frac{5}{8}:\frac{1}{2}+1\frac{5}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9}{14}:\frac{3}{7}$

لسم- وشمیری:

الف- $-19+(0{,}5+1{,}75)\cdot 4$ ب - $\left(1{,}\bar{3}\cdot 3-\frac{1}{2}\right):7$ پ - $\frac{3}{4}:\frac{5}{7}$

ت - $\left(2{,}\bar{6}-\frac{1}{3}\right):\left(-1\frac{1}{3}+0{,}\bar{3}\right)$ ټ - $12\cdot\frac{1}{3}+12\cdot\frac{1}{4}-7$

ث - $\left(1{,}\bar{3}\cdot 9-\frac{9}{3}\right):3+\left(-\frac{1}{2}+2\right)$

مفصل حلونه

لومړی- الف- $\frac{2}{3}=2:3=0{,}66666\ldots=\underline{\underline{0{,}\bar{6}}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - $\frac{8}{9} = 8:9 = 0,88888... = \underline{\underline{0,\overline{8}}}$

پ - $5\frac{1}{2} = 5 + \frac{1}{2} = 5 + 1:2 = 5 + 0,5 = \underline{\underline{5,5}}$

ت - $7\frac{7}{11} = 7 + \frac{7}{11} = 7 + 7:11 = 7 + 0,636363... = 7 + 0,\overline{63} = \underline{\underline{7,\overline{63}}}$

ټ - $4\frac{16}{256} = 4 + \frac{16}{256} = 4 + \frac{1}{16} = 4 + 1:16 = 4 + 0,0625 = \underline{\underline{4,0625}}$

دویم-

$1t = 1\,Tonne = 1000\,kg$

$1dz = 1\,Doppelzentner = 100\,kg$

$2,5\,t = 2,5 \cdot 1000\,kg = 2500\,kg$

$8\frac{1}{2}\,dz = 8,5 \cdot 100\,kg = 850\,kg$

$0,25\,dz = 0,25 \cdot 100\,kg = 25\,kg$

$0,3\,t = 0,3 \cdot 1000\,kg = 300\,kg$

$$2,5\,t + 8\frac{1}{2}\,dz + 1,55\,kg + 0,25\,dz + 0,3\,t + 12,3\,kg$$
$$= 2500\,kg + 850\,kg + 1,55\,kg + 25\,kg + 300\,kg + 12,3\,kg = \underline{\underline{3688,85\,kg}}$$

پام : په پورته حل کې Doppelzentner د ډبل لسو یعنې 100په معنا دی.

دریم- مفصل حلونه

الف- $1\frac{3}{4}\,Liter = 1,75\,Liter$ ،کال ۳۶۵ روځې لري.

د شودو د کال لګښت دی: $365 \cdot 1,75\,Liter = \underline{\underline{638,75\,Liter}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - د یو لیتر شودو نرخ € 0,79 دی. د شودو قیمت په یوه کال کې دی:

$$638,75 \cdot 0,79€ = 504,61€$$

څلورم-

$$43\frac{1}{2}\text{Liter} = 43,5\text{Lite}$$

له دې څخه کم ( منفی)کړی:

$$6 \cdot 0,75\text{Liter} = 4,5\text{Liter}$$ او $$9 \cdot 0,7\text{Liter} = 6,3\text{Liter}.$$

په مرتبان کې له دې امله $43,5\text{Liter} - 4,5\text{Liter} - 6,3\text{Liter} = 32,7\text{Liter}$ لیتره اوبه پاتې کیږی.

پنځم- مفصل حلونه

د دې لپاره، چې کسرونه سره پرتله کړای شو، باید دا همنومیز کړو یعنې ګډ مخرج(ماتلاندې) یې پیدا کړو.

یادونه: په لاندې کې HN اصلی مخرج یا ګډ مخرج دی.

الف- $$\frac{2}{6};\frac{2}{9} \Rightarrow HN = 36 \Leftrightarrow \frac{6\cdot 2}{6\cdot 6};\frac{4\cdot 2}{4\cdot 9} \Leftrightarrow \frac{12}{36};\frac{8}{36} \Rightarrow \frac{12}{36} > \frac{8}{36} \Leftrightarrow \underline{\underline{\frac{2}{6} > \frac{2}{9}}}$$

ب - $$1;\frac{1}{2} \Rightarrow HN = 2 \Leftrightarrow \frac{2\cdot 1}{2\cdot 1};\frac{1}{2} \Leftrightarrow \frac{2}{2};\frac{1}{2} \Rightarrow \frac{2}{2} > \frac{1}{2} \Leftrightarrow \underline{\underline{1 > \frac{1}{2}}}$$

پ - $$\frac{3}{4};\frac{5}{7} \Rightarrow HN = 28 \Leftrightarrow \frac{7\cdot 3}{7\cdot 4};\frac{4\cdot 5}{4\cdot 7} \Leftrightarrow \frac{21}{28};\frac{20}{28} \Rightarrow \frac{21}{28} > \frac{20}{28} \Leftrightarrow \underline{\underline{\frac{3}{4} > \frac{5}{7}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ت - $\frac{1}{2};\frac{2}{5}\Rightarrow HN=10\Leftrightarrow\frac{5\cdot1}{5\cdot2};\frac{2\cdot2}{2\cdot5}\Leftrightarrow\frac{5}{10};\frac{4}{10}\Rightarrow\frac{5}{10}>\frac{4}{10}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{1}{2}>\frac{2}{5}}}$

ټ - $\frac{7}{9};\frac{11}{10}\Rightarrow HN=90\Leftrightarrow\frac{10\cdot7}{10\cdot9};\frac{9\cdot11}{9\cdot10}\Leftrightarrow\frac{70}{90};\frac{99}{90}\Rightarrow\frac{70}{90}<\frac{99}{90}\Leftrightarrow\underline{\underline{\frac{7}{9}<\frac{11}{10}}}$

شپږم- مفصل حلونه

که کسرونه سره زیاتیږی یا کمیږی یعني جمعه او یا تفریق کیږی، باید له هر څه اول ګډ مخرج ته راوړل شی یا یې اصلي ماتلاندی( مخرج مشترک) وټاکل شی.

په لاندې کې: HN=اصلي ماتلاندې یا ـمخرج

الف- $\frac{1}{2}+\frac{2}{3}\quad HN=6\Rightarrow\frac{1\cdot3}{2\cdot3}+\frac{2\cdot2}{3\cdot2}=\frac{3}{6}+\frac{4}{6}=\frac{3+4}{6}=\frac{7}{6}=\underline{\underline{1\frac{1}{6}}}$

ب - $\frac{1}{4}-\frac{1}{6}\quad HN=12\Rightarrow\frac{1\cdot3}{4\cdot3}-\frac{1\cdot2}{6\cdot2}=\frac{3}{12}-\frac{2}{12}=\frac{3-2}{12}=\underline{\underline{\frac{1}{12}}}$

پ –

$$\frac{1}{2}-\frac{1}{4}+\frac{1}{8}-\frac{1}{10}\quad HN=40\Rightarrow\frac{1\cdot20}{2\cdot20}-\frac{1\cdot10}{4\cdot10}+\frac{1\cdot5}{8\cdot5}-\frac{1\cdot4}{10\cdot4}$$

$$=\frac{20}{40}-\frac{10}{40}+\frac{5}{40}-\frac{4}{40}=\frac{20-10+5-4}{40}=\underline{\underline{\frac{11}{40}}}$$

ت – $\frac{7}{8}-\frac{2}{7}-\frac{1}{4}$

$$HN=56\Rightarrow\frac{7\cdot7}{8\cdot7}-\frac{2\cdot8}{7\cdot8}-\frac{1\cdot14}{4\cdot14}=\frac{49}{56}-\frac{16}{56}-\frac{14}{56}=\frac{49-16-14}{56}=\underline{\underline{\frac{19}{56}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اوم- مفصل حلونه

که کسرونه سره زیاتیږی یا کمیږی یعني جمعه او یا تفریق کیږی، باید له هر څه اول ګډ مخرج ته راول شی یا یې اصلي ماتلاندی( مخرج مشترک) وټاکل شی.

الف-
$$7\frac{1}{2}-3\frac{1}{4}=\frac{15}{2}-\frac{13}{4}$$

$$HN=4\Rightarrow\frac{30}{4}-\frac{13}{4}=\frac{30-13}{4}=\frac{17}{4}=4\frac{1}{4}$$

HN=اصلي ماتلاندې یا –مخرج

ب –

$$3\frac{2}{3}+2\frac{2}{6}-4\frac{4}{9}=\frac{11}{3}+\frac{14}{6}-\frac{40}{9}\quad HN=18\Rightarrow\frac{66}{18}+\frac{42}{18}-\frac{80}{18}=\frac{28}{18}=\frac{14}{9}=1\frac{5}{9}$$

پ –

$$9\frac{2}{5}+1\frac{1}{3}-4\frac{5}{6}=\frac{47}{5}+\frac{4}{3}-\frac{29}{6}$$

( اصلي ماتلاندې یا – مخرج HN)

$$HN=30\Rightarrow\frac{282}{30}+\frac{40}{30}-\frac{145}{30}=\frac{177}{30}=\frac{59}{10}=5\frac{9}{10}$$

اتم-

الف-
$$4\cdot\frac{1}{8}=\frac{4}{1}\cdot\frac{1}{8}=\frac{4\cdot 1}{1\cdot 8}=\frac{4}{8}=\frac{1}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - $\frac{4}{5}\cdot 2=\frac{4}{5}\cdot\frac{2}{1}=\frac{4\cdot 2}{5\cdot 1}=\frac{8}{5}=1\frac{3}{5}$

پ - $1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)=\frac{5}{3}\cdot\left(-\frac{7}{2}\right)=-\frac{5}{3}\cdot\frac{7}{2}=-\frac{5\cdot 7}{3\cdot 2}=-\frac{35}{6}=-5\frac{5}{6}$

ت - $4:\frac{1}{2}=\frac{4}{1}:\frac{1}{2}=\frac{4\cdot 2}{1\cdot 1}=\frac{8}{1}=8$

ټ - $4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}=\frac{29}{6}:\frac{11}{9}=\frac{29\cdot 9}{6\cdot 11}=\frac{29\cdot 3}{2\cdot 11}=\frac{87}{22}=3\frac{21}{22}$

نهم-

الف- $\frac{4}{5}-3\frac{1}{10}=\frac{4}{5}-\frac{31}{10}=\frac{8}{10}-\frac{31}{10}=\frac{8-31}{10}=-\frac{23}{10}=-2\frac{3}{10}$

ب - $6\frac{4}{5}-3\cdot\frac{1}{2}+2\cdot\frac{1}{3}=\frac{34}{5}-\frac{3}{2}+\frac{2}{3}=\frac{204}{30}-\frac{45}{30}+\frac{20}{30}=$

$$\cdot=\frac{204-45+20}{30}=\frac{179}{30}=5\frac{29}{30}$$

پ –

$$\frac{5}{8}:\frac{1}{2}+1\frac{5}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9}{14}:\frac{3}{7}=\frac{5\cdot 2}{8\cdot 1}+\frac{12}{7}\cdot\frac{7}{4}-\frac{9\cdot 7}{14\cdot 3}$$

$$=\frac{5}{4}+\frac{12}{4}-\frac{3}{2}=\frac{5}{4}+\frac{12}{4}-\frac{3}{2}=\frac{17}{4}-\frac{6}{4}=\frac{11}{4}=2\frac{3}{4}$$

لسم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف- $-19+(0,5+1,75)\cdot 4=-19+2,25\cdot 4=-19+9=\underline{\underline{-10}}$

ب –

$$\left(1,\overline{3}\cdot 3-\frac{1}{2}\right):7=\left(1\frac{1}{3}\cdot 3-\frac{1}{2}\right):7=\left(\frac{4}{3}\cdot 3-\frac{1}{2}\right):7=\left(4-\frac{1}{2}\right):7$$
$$=\left(\frac{8}{2}-\frac{1}{2}\right):7=\frac{7}{2}:7=\frac{7}{2}:\frac{7}{1}=\frac{7\cdot 1}{2\cdot 7}=\underline{\underline{\frac{1}{2}}}$$

پ -

$$\frac{\frac{3}{4}}{\frac{5}{7}}=\frac{3\cdot 7}{4\cdot 5}=\frac{21}{20}=\underline{\underline{1\frac{1}{20}}}$$

ت –

$$\left(2,\overline{6}-\frac{1}{3}\right):\left(-1\frac{1}{3}+0,\overline{3}\right)=\left(2\frac{2}{3}-\frac{1}{3}\right):\left(-\frac{4}{3}+\frac{1}{3}\right)$$
$$=\left(\frac{8}{3}-\frac{1}{3}\right):\left(-\frac{3}{3}\right)=\frac{7}{3}:(-1)=-\frac{7}{3}=\underline{\underline{-2\frac{1}{3}}}$$

ټ –

$$12\cdot\frac{1}{3}+12\cdot\frac{1}{4}-7=\frac{12}{3}+\frac{12}{4}-7=4+3-7=\underline{\underline{0}}$$

ث –

$$\left(1,\overline{3}\cdot 9-\frac{9}{3}\right):3+\left(-\frac{1}{2}+2\right)=\left(1\frac{1}{3}\cdot 9-3\right):3+\left(-\frac{1}{2}+\frac{4}{2}\right)$$
$$=\left(\frac{4}{3}\cdot 9-3\right):3+\frac{3}{2}=\left(\frac{4\cdot 9}{3}-3\right):3+\frac{3}{2}=(12-3):3+\frac{3}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$= 9:3+\frac{3}{2} = 3+\frac{3}{2} = \frac{6}{2}+\frac{3}{2} = \frac{9}{2} = 4\frac{1}{2}$$

## 0.4. درېجملې ته مفصل حل

### 0.4.1.متناسب: proportional

1- يو موټر په سل کيلومتره 100 km کې9,6 ليتره بنزين مصرفوی. د يوې ډکې ټانکۍ سره دی 540 km لری واټن وهی. دا ټانکی څومره تيل خوندی کولای شي ؟ ( په پوره ليتر يې راګرد کړئ)

| | |
|---|---|
| | 100 km 9,6 Liter<br>540 km ? Liter<br>100 km 9,6 Liter<br>1 km سلمه( 100. ) برخه<br>ضرب يې (ځله) 540<br>$\frac{9{,}6Liter \cdot 540}{100} = 51{,}84Liter \approx 52Liter$ |

ځواب: ټانکۍ 52 Liter تيل خوندي لري

### 0.4.2.په څټ يا معکوس متناسب Antiproportional

2 - د يوه انګړ جوړولو لپاره درې کارګر 11,5 ساعته وخت ته اړتيا لری. د دې لپاره به 5 کارګر څومره وخت ته اړتيا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



--------------------------------------------------------------------------------

| | |
|---|---|
| 3 کارگر 11,5 ساعتونه<br>5 کارګر h? ( یادونه: h د ساعت لپاره)<br>-------------------------<br>3 کارګر 11,5 ساعتونه<br>1 – کارګر 3 ځله زيات وخت<br>5 کارګر د وخت پنځمه پرخه :<br>$\frac{11,5h \cdot 3}{5} = 6,9h$<br>هرڅمره چې کارګر ډېر وی همغومره کمو ساعتونو ته ته اړتیا ده. لاس ته راوړنه برعکس متناسب ده<br>(په خټ متناسب antiproportional ⇒ ). | که کارګر هرڅومره زيات شي همغومره وخت کمیږی<br>له دې لاس ته راځي (⇐)<br>بعکس متناسب<br>ځواب: پنځه کار ګر دا کارپه $\underline{\underline{6,9\,h \approx 7\,h}}$ ساعتونو کې پای ته رسوي<br>$\frac{11,5h \cdot 3}{5} = 6,9h$ |

0.4.3.پوښ کونه (لکه په کوتیو کې کېښونه یا بندونه$\underline{\text{ verschachtelt }}$I)I دریم:

یو $7\ m^2$ لوي 5 mm ملی متره پنډ د ټیم ځادر .313,6 kg وزن لري.

یو 6 mm ملی متره پنډ ټیم به څومره وزن ولري، چې یوه د $4\ m^2$ سطحه ولري ( په کیلوګرام یې را ګرد کړی)

په لاندې کې مو.Blech , ( لوستل: بلښ) ټیم یا د تم ځادر ته ویلي.

| | |
|---|---|
| هر څومره چې ملی متره mm زيات وی همغومره ټیم درنیږي<br>لاس ته راوړنه سیده متناسب<br>هرڅومره چې مربع متر $m^2$<br>زیاتیږي همغومره ټیم دروند وي | $7m^2$ ټیم 5mm پنډ 313,6kg<br>$4m^2$ ټیم 6mm پنډ ?kg<br>7m2 ټیم 5mm پنډ313,6kg |

(c) ketabton.com: The Digital Library



--------------------------------------------------------------------------------

| | |
|---|---|
| سیده متناسب ⇒ proportional | $\frac{313,6kg \cdot 4 \cdot 6}{7 \cdot 5} = 215,04kg \approx 215kg$<br>1m² تیم 5mm پنډ 7 -مه برخه<br>4m²تیم 5mm پنډ 4ځله ډېر<br>4m²تیم پنډ 1mm 5 -مه برخه<br>4²تیم پنډ 6mm 6 ځله ډېر |

ځواب: تیم $\underline{\underline{: 215 kg}}$ وزن لري

## 0.4.4.پوښ کونه II verschachtelt II

ځلورم- د720 m² انکړ لپاره اوه ختګر 160 h ساعته وخت ته اړتیا لري.

5 ختګر به د 600 m² لپاره څومره وخت ته اړتیا ولري( وخت په ساعتونو او دقیقد وروکړی)

$$\frac{160h.7.600}{5.720} = 186\bar{6}h = 186\frac{2}{3}h = 186h40\min$$

هرڅومره چې ختګر زیات وی هموغمره لږ وخت نیسي. له دې لاس ته راځي: برعکس متناسب

هرڅومره لږ ختګر همغومره زیات ساعتونه. له دې لاس ته راځي مستقیم متناسب

ځواب. پنځه ختګر 186h 40min ته اړتیا لري.

## 0.4.5.پوښونه III (یوبل کې بندونه یا پوښونه:)verschachtelt III

پنځم - دولس کارګرو د په ا وه روځوو روځې نهه ساعته کار کې 390 m² مرته د سیمټو دیوال جوړ کړ.

د برابر زور یا قدرت څو کارګر باید په کار واچول شي، چې په مجموع یووېشت روځو کې 2340 m² بیتون (د سیمټو)دیوال جوړ کړي او د روځې د کار وخت یې فقط اته ساعته وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | | | |
|---|---|---|---|
| $390\,m^2$ | $7T$ | $9h$ | $12E$ |
| $2340\,m^2$ | $21T$ | $8h$ | ? |
| $390\,m^2$ | $7T$ | $9h$ | $12E$ |

390 -مه برخه
2340-ځله زيات

7 -ځله زيات
21 –مه برخه
9-ځله زيات
8 -مه برخه

| | | |
|---|---|---|
| $1m^2$ | $7T$ | $9h$ |
| $2340\,m^2$ | $7T$ | $9h$ |
| $2340\,m^2$ | $1T$ | $9h$ |
| $2340\,m^2$ | $21T$ | $9h$ |
| $2340\,m^2$ | $21T$ | $1h$ |
| $2340\,m^2$ | $21T$ | $8h$ |

$$\frac{12E \cdot 2340 \cdot 7 \cdot 9}{390 \cdot 21 \cdot 8} = \underline{\underline{27E}}$$

## درېجملې ته پوښتنې:

يادونه: دا دې تل ورسره وليکل شی چې ايا دا اړيکې متناسب او که معکوس متناسب دی.

لومړی- يو ګړندی موټر د 100 km لپاره 9,6 Liter تيل مصرفوی
د 60 Liter ډکې ټانکی سره به موټر څو کيلومتره لار ووهي؟2- په يوه ماركيټ کې
دويم – په دوکان کې 40 دانې بنسلونه 0,68 € قيمت لري.

همدا ډول به 250 پنسلونه څو € يورو قيمت ولری ؟
دريم - يو سرک 2,4 km کيلومتره اوږدوال په 8,4 m متره جګيږي

څو متره په په برابر پاټې 5 km جګه شی
څلورم- د يوې ګراجې جوړولو لپاره درې کارګر 7,5 ساعتونو ته اړتيا لري.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

کار په څومره دوام ولري، که 5 کارګر په کار واچول شي؟
پنځم- یو $6\ m^2$ لوی د مسو ټیم چې 4 mm پنډ د ی 213,6 kg وزن لري.

یو ټیم چې 3 mm پنډ د ی څومره وزن ولری، که سطحه $4\ m^2$ ولري؟شپږم- یو توریست له یوه پنک څخه د € 400 لپاره432 ډالر اخلي.

هغه په څومره ډالر لاس ته راوړي وی، که هغه € 2250 بدلې کړې وی.

اوم- یو دکاندار د میاشتې خرڅلاو کې، چې ټول € 45200کیږي € 3164 ګټه تر لاس کوی . که په بله میاشت کې یې ګټه € 220,50 په پخوانۍ ګټې زیاته وی. خرڅلاو به یې څږمره وي؟اتم- د پنځو ختګرو لخوا دیوال $616\ m^2$ په 154 ساعتونو کېحوړیږي .

څومره دیوال کړی شي په برابر توان شپږ ختګر په 160 h کې جوړ کړي.نهم - که$1800\ m^3$ متره مکعب اوبه چې 12 m متره جګې یووړل شي، یوه څلورکیلوواټ پمپ ته اړتیاشته

څومره اوبه کیدی شي د اته کیلو واټ پمپ سره 16متره جګې یووړل کیدی شي؟
لسم- د موټر د باډۍ 1280 برخو (پرزو)جوړولو لپاره 4 مستریان په کار دي، چې هر یو 8 h ساعته کار وکړي..

څومره مستریان باید په کار واچول شي، چې د موټر 2400 برخې(پرزی) هره روځ جوړې کړي او دوه مستریان نور هم پرې زیات شي؟
یولسم- په درې اوتومات الاتو جوړولو ماشین باندې 150 متال پوښونو په یو ساعت او 15 min دقیقو کې جوړېدای شي.

څومره پوښونه به په 2 h 30 min او30 min دقیقو تولید شي، که دوه ماشینونه زیات په کار واچول شي؟

دولسم- د دې لپاره چې $96\ m^2$ د چت سطحه پوښ شي، درې کارګرو ته اړتیا ده چې دوه روځې هره روځ اته ساعته کار وکړی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

څلور کارګر به دا کار په څو روځو کې پای ته ورسوي، چې د چت سطحه پوښ کړي او د روځې یو ساعت کار زیات کړي.؟

دیارلسم- درې روځو کې شپږ ډیزل ماشینونهه هره روځ شپاړس ساعتونو کار کې 2016 Liter لیتره ډیزل سوزي. د تولید زیاتوالي لپاره په راتلونکې کې اته ماشینونه په کار اچول کیږي او د کار وخت په دوه ساعته جګیږي.

د روځې څومره د ډیزلو مصرف باید په پام کې ونیول شي؟
څوارلسم- د اته برېښنا ګروپونو لپاره ، چې د روځی اته ساعته سوزي د میاشتې € 18 مصرف راځي.

څومره لګښت راځي، که دولس ګروپونه په همغه قدرت د روځې شپږ ساعته وسوزي؟
پنځلسم- دولس کارګر دروځې نهه ساعته کار باندې په 7 روځو کې $390m^2$ د سیمټو دیوال جوړوي. څومره کار کر د برابر قدرت سره په ۲۱ روځو کې $2340\ m^2$ د سیمټو دیوال پورته کوی، چې په وخت کار پای کړي او د روځې اته ساعته کار وکړي؟.
د درې جملې د تمرینونو I حل.

## نتیجې:

لومړی - هرڅومره ډېر لیترونه، همغومره ډېر کیلړمتره( سیېه متناسب)

د یوې 60 لیتره ډکې ټانکی سره موټر 625 km کیلو متره لار وهي.

دویم - هرڅوره چې پنسلونه ډېر وي، همغومره زاتیې پیسې (یا یورو€ )( سیده متناسب)

250 همغهډول پنسلونه € 25 ارزښت (قیمت) لری

دریم - هرڅومره زیات کیلومتره په همغه کچه د جګوالي توپیر( سیده متناسب).

د 5 km کیلو متره اوږدوالي سره، سرک 17,5 m متره جګیږي.

څلورم - هرڅومره زیات کارګر، همغومره کم ساعتونه( برعکس یا په څټ متناسب)

د 5 کارګرو له خوا کار 4,5 ساعتونه دوام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پنځم - هرڅومره چې $m^2$ مربع متره زیاتیږي، په همغه کچه kg کیلوګرام ( سیده متناسب)

هرڅومره کم mm ملي متره ، همغومره کم kg کیلوګرام( سیده متناسب).

یو 3 mm درې ملی متره پنډ تیم د$4\ m^2$ سطحې سره .106,8 kg وزن لري..

شپږم - هرڅومره چې € زیات ویي، همغومرره به $ زیات وي ( سیده متناسب).

د € 2250 لپاره په توریست $ 2430 لاس ته راړوي وای.

اوم - هرڅومره زیاتې پیسې همغومره ډېر ګټل( درامد) ( سیده متناسب)

د € 3384,50ګټې یا معاش سره ټول خرڅلاو € 48350 دی.

اتم - هرڅومره ډېر کارګر همغومره ډېر متره مربع $m^2$ ( سیده متناسب)

هرڅومره زیات ساعتونه همغومره ډېر$m^2$ ( سیده متناسب)

شپږ6 ختګر په 160 ساعتونو کې $768\ m^2$ دیوال جوړوي.

نهم - هرڅومره زیات kW ، همغومره زیات $m^3$ ( متناسب)

هرڅومه زیات m ، همغومره کم $m^3$ ( مخامخ یا برعکس متناسب)

یو8 kW پمپ کړی شی $2700\ m^3$ اوبه 16 m جګې پمپ کړی.

لسم - هرڅومره چې کارګرزیات وي همغومره لږ کار( معکوس متناسب)
همرڅومره زیتې برخې( ټوټې) و همغومره زیات وخت ( متناسب)
روځنی کار باید په 2 ساعتو وغزیږي
یولسم – هرڅومره ډېر ماشینونه، همغوره زیات پوښونه( متناسب)
هرڅومره زیات وخت، هموغمره زیات پوښونه ( متناسب)
په2 h او30 min کې کېدی شي په 5 د کار الاتو یا ماشینوو باندې 500 پوښونه چمتوش ي.
دولسم - هرڅوره زیات پوښونه، همغومره لږ وخت ( معکوس متناسب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

هرڅومره زيات همغومره زيات وخت ( متناسب)
هر،مره ساعتونه په روځ ( رووځ / ساعت (h/Tag ) ) (معکوس متناسب)
د $144\ m^2$ يو چت د ورځې 9 ساعته کار سره چې پوښ کړو، څلور پوښورکوونکو ( کارګرو) ته اړتيا ده او 2 روځو ته.
ديارلسوم- هرڅومره زيات ماشينونه همغومره زيات ليرونه ( متناسب)
د روځې هرڅومره زيات ساعتونه، همغومره زيات ليرونه( متناسب)
د روځې په ۱۸ ساعته چالان کې ۸ ډيزل ماشينونه ۱۰۰۸ ليتره تيل د روځې مصرفوي.
څوارلسم - هرڅومره زيات څراغونه، همغومره زياتې € ( متناسب)
هرڅومره د روځې لږ ساعتونه، همغومره دروځې لږ € ( متناسب)
که ۱۲ څراغونه د روځې ۶ ساعته بل وي، د مياشتې 20,25 € بايد مصرف تاديه شي .
پنځلسم - هرڅومره زيات همغومره زيات کارګر ( متناسب)
هرڅومره زياتې روځ ي ، همغومره لږ کارګر( معکوس متناسب)
هر څومره د روځې لږ ساعتونه( h/Tag ) ، همغومره زيات کارګر( معکوس ياپه ښه متناسب)
بايد ۲۷ کارګر په کار واچول شي.

## مفصل حلونه يا اوبيونې

لومړی-

| | |
|---|---|
| 9,6 Liter 100 km<br>60 Liter ? km<br>9,6 Liter 100 km<br>يو ليتر 9,6 -مه برخه<br>60 ليتره 60ځله زيات<br>$\frac{100\ km \cdot 60}{9{,}6} = 625\ km$ | هرڅومره زيات ليترونه همغومره زيات کيلومتره له دې لاس ته راځي: متناسب |

د 60 ليتره ټانکۍ سره موټر کړی شي ۶۲۵ کيلو متره واټن ووهي.

دويم- ( په لاندې کې Stahlstift د اوسپنې پنسل په معنا دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| 40 Stahlstifte 0,68 €<br>250 Stahlstifte ? €<br>40 Stahlstifte 0,68 €<br>1پنسل څلوېښتمه برخه<br>250 پنسلونه 250څله زيات<br>$\frac{0{,}68\ € \cdot 250}{40} = 4{,}25\ €$ | هرڅومره زيات د اوسپنې قلمونه ، همغومره زياتې يورو<br>له دې لاس ته راځي : متناسب |

د همغه ډول يا تيوپ ۲۵۰ د اوسپنې قلونه ۴و۲۵ يورو قيمت لري.
دريم –

| | |
|---|---|
| 2,4 km 8,4 m<br>5 km ? m<br>2,4 km 8,4 m<br>1کيلومتر 2,4-مه برخه<br>5کيلومتره 5-ځله زيات<br>$\frac{8{,}4\ m \cdot 5}{2{,}4} = 17{,}5\ m$ | هر څومره زيات کيلو متره همغومره د حګوالي توپير.<br>له دط لاس ته راځي: متناسب |

دپنځه کيلو متره اوږده سرک باندې سرک ۱۷،۵ متره جګيږي.
څلورم Pflasterer د پوښوونکي په معنادی

| | |
|---|---|
| 3 Pflasterer 7,5 h<br>5 Pflasterer ? h<br>3 Pflasterer 7,5 h<br>1 Pflasterer 3 mal solange<br>5 Pflasterer den 5. Teil<br>$\frac{7{,}5\ h \cdot 3}{5} = 4{,}5\ h$<br>1پوښوونکی ۳-ځله زيات<br>5 پوښوونکی ۵-مه برخه | هرڅومره زيات کارګر همغومره لږ ساعتونه<br>له دې لاس ته راځي:<br>په څټ متناسب |

د پنځه کارګرو ګومارلو سره کار ۴،۵ ساعته دوام کوي.
پنځم – dik د پنډ په مان، اmal so viel= ضرب دومره ډېر، ... برخه = tel ….de ;

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| هرڅومره زيات$m^2$،<br>همغومره زيات kg<br>له دې لاس ته راځي:<br>متناسب<br>هرڅومره لږ mm<br>همغومره لږ kg<br>له دې لاس ته راځي:<br>متناسب | 6 $m^2$ 4 mm dick 213,6 kg<br>4 $m^2$ 3 mm dick ? kg<br>———————————<br>6 $m^2$ 4 mm dick 213,6 kg<br>1 $m^2$ 4 mm dick den 6. Teil<br>4 $m^2$ 4 mm dick 4 mal soviel<br>4 $m^2$ 1 mm dick den 4. Teil<br>4 $m^2$ 3 mm dick 3 mal soviel<br>$\frac{213,6\,kg \cdot 4 \cdot 3}{6 \cdot 4} = 106,8\,kg$<br>1مترمربع -مه برخه<br>4متره مربع ځله زيات |

يو درې ملي متره پنډ د مسو څادر د يوې څلور متره مربع سطحي سره ۱۰۶،۸ کيلوگرامه وزن لري..

شپږم –

| | |
|---|---|
| هرڅومره ډېرې يورو<br>همغومره زيات ډالر.<br>له دې لاس ته راځي:<br>متناسب | 400 € 432 \$<br>2250 € ? \$<br>———————————<br>400 € 432 \$<br>1 € den 400. Teil<br>2250 € 2250 mal soviel<br>$\frac{432\,\$ \cdot 2250}{400} = 2430\,\$$<br>1کيلومتر -مه برخه<br>5کيلومتره ځله زيات |

د ۲۲۵۰ يورو به توريست ۲۴۳۰ ډالره اخستي وی.

اوم –

پرووېزين Provision له ۲۲۰،۵۰ يورو څخه ۳۳۸۴،۵۰ ته جګيري

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| هرڅومره زيات پرووېزيون ، همغومره زياتي پيسې<br>له دې لاس ته راځي:<br>متناسب | 3164 € Provision — 45200 € Umsatz<br>3384,50 € Provision — ? € Umsatz<br>3164 € Provision — 45200 € Umsatz<br>1 € Provision — den 3164. Teil<br>3384,50 € Provision — 3384,50 mal soviel<br>$\frac{45200\,€ \cdot 3384{,}50}{3164} = 48350\,€$<br>1کيلومتر -مه برخه<br>5کيلومتره ځله زيات |

د يوه ۳۳۸۴،۵۰ يورو پرووېزين سره ټولې پيسې ۴۸۳۵۰ يورو کيږي

اتم – لاندې کښ ۴-مه او ۵-مه ليکه

1ختګرو 5-مه برخه

۶کيلومتره ۶ځله زيات

| | |
|---|---|
| هرڅومره زيات ختګر همغومره زيات مربع متر<br>له دې لاس ته راځي:<br>متناسب<br>هرڅومره زيات ساعتونه، همغومره زيات مربع متره.<br>لاس ته راځي:<br>متناسب | 5 Maurer — 154 h — 616 $m^2$<br>6 Maurer — 160 h — ? $m^2$<br>5 Maurer — 154 h — 616 $m^2$<br>1 Maurer — 154 h — den 5. Teil<br>6 Maurer — 154 h — 6 mal soviel<br>6 Maurer — 1 h — den154. Teil<br>6 Maurer — 160 h — 160 mal soviel<br>$\frac{616\,m^2 \cdot 6 \cdot 160}{5 \cdot 154} = 768\,m^2$ |

۶ ختګر په ۱۶۰ساعته کښ ۷۶۸ مربع متره ديوال جوړوي.

نهم –

لاندې کښ ۴-مه او ۵-مه ليکه

1کيلوواټ ۴-مه برخه

۸کيلوواټ ۸ځله زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| هرڅومره زيات کيلو واټه، همغومره زيات کوبيک متره.<br>لاس ته راځي:<br>متناسب<br>هرڅومره زيات متره ، همغومره کم مربع متره.<br>لاس ته راځي:<br>برعکس متناسب | 4 kW 12 m 1800 $m^3$<br>8 kW 12 m ? $m^3$<br>———<br>4 kW 12 m 1800 $m^3$<br>1 kW 12 m den 4. Teil<br>8 kW 12 m 8 mal soviel<br>8 kW 1 m 12 mal soviel<br>8 kW 16 m den 16. Teil<br>$\frac{1800\ m^3 \cdot 8 \cdot 12}{4 \cdot 16} = 2700\ m^3$ |

يو ۸ کيلو واټه پمپ کړی شي ۲۷۰۰ مکعبمتره اوبه ۱۶ متره جګې کړي.

لسم –

| | |
|---|---|
| هرڅومره ډېر ستانڅونه، همغومره لږ ساعتونه.<br>لاس ته راځي:<br>معکوس متناسب.<br>هرڅومره زياتي برخي، همغومره زيات ساعتونه.<br>لاس ته رځي:<br>متناسب | 4 Stanzen 1280 Teile 8 h<br>6 Stanzen 2400 Teile ? h<br>———<br>4 Stanzen 1280 Teile 8 h<br>1 Stanze 1280 Teile 4 mal solange<br>6 Stanzen 1280 Teile den 6. Teil der Zeit<br>6 Stanzen 1 Teil den 1280. Teil der Zeit<br>6 Stanzen 2400 Teile 2400 mal solange<br>$\frac{8\ h \cdot 4 \cdot 2400}{6 \cdot 1280} = 10\ h = 8\ h + 2\ h$ |

روځنی کار باید په دوه ساعته جګ یا ډېر شي

يولسم – 2 h 30 min = 150 min 1 h 15 min = 75 min

| | |
|---|---|
| هرځورمه زيا ت ماشينونه، همغومره زيات کارتوس يا پوښونه.<br>لاس ته راځي:<br>متناسب.<br>هرڅومره زيات وخت، همغومره زيات پوښونه.<br>لاس ته راځي: | 3ماشينه 75min د کارتوسو نړې150<br>5ماشينه 150min د کارتوسو نړې?<br>———<br>3ماشينه 75min د کارتوسو نړې150<br>1ماشينه 75min د کارتوسو نړې دريمه برخه<br>5ماشينه 75min د کارتوسو نړې ۵ځله رياتې نړئ<br>5 ماشينه 1min د کارتوسو نړې 5 –ځله زياتېنړئ<br>۵ماشينه ۱۵۰ د کارتوسو نړې۱۵۰ – ځله زياتېنړئ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{150\,Hülsen \cdot 5 \cdot 150}{3 \cdot 75} = 500\,Hülsen$$

په 2 h 30 min کې کیدی شي په پنځه الاتماشینونو باندې 500 پوښونه چمتو شي.

دولسم –

| | |
|---|---|
| په لاندې tag د ورځ په معنا دی<br>3 پوښووني 96m² 8h/ tag 2ورځې<br>4پوښووني 14m²4 8h/tag ؟ ورځې<br>———<br>3پوښووني 96m² 8h/tag 2 ورځې<br>1پوښوونی 96m² 8h/tag 3 ځله اوږد<br>4پوښووني 96m² 8h/tag 4 -مه برخه<br>4پوښووني 1m² د وخت 96-مه برخه<br>4پوښووني 144m² 8h /tag 144ځله ډېر اوږد<br>4پوښووني 144m² 1h/tag 8ځله اوږد<br>4 پوښووني 144m² 9h/tag د وخت 9–مه برخه<br>$\frac{2\,Tage \cdot 3 \cdot 144 \cdot 8}{4 \cdot 96 \cdot 9} = 2\,Tage$ | هرڅومره زیات پوښووني همغومره لږ وخت.<br>لاس ته راځي:<br>معکوس متناسب.<br>هرڅومره زیات مربع متره، همغومره زیات وخت.<br>لا سته راځي:<br>متناسب.<br>هرڅومره د ورځې زیات ساعتونه، همغومره لږ وخت.<br>لاس ته راوړنه:<br>معکوس متناسب |

د $144\ m^2$ چت جوړوني ته په ورځني9 ساعته کار سره، څلور پوښووني دوه ورځو ته اړتیا لري.

دیارلسم –

په یوه ورځ کې6 دیزل ماشینتونه چې د ورځې 16 ساعته کار وکړي. = 2016:3 672 لیتره ډیزل مصرفوي.

| | |
|---|---|
| 6 ماشینونه 16h/tag 672Liter<br>8ماشینونه 18h/tag ? liter<br>-----------------------------------<br>6ماشینونه 16h/tag 672 Liter<br>1ماشینونه 16h/tag 6 - مه برخه<br>8مشینونه 16h/tag 8 ځله ډېر<br>8ماشینونه 1h/tag 16 -مه برخه<br>8ماشینونه 18h/tag 18 ځله ډېر<br>$\frac{672\,Liter \cdot 8 \cdot 18}{6 \cdot 16} = 1008\,Liter$ | هرڅومره زیات ماشینونه ، همغوره زیات لیترونه.<br>لاس ته راځي:<br>متناسب.<br>هرڅومره د ورځې زیات ساعتونه، همغومره زیات لیترونه.<br>لا سته راړونه:<br>متناسب |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که ماشینونه د ورځې 18 ساعته وګرځي، نو 8 ماشینونه 1008 لیتره ډیزل د ورځې مصرفوي.

څوارلسم -

| | |
|---|---|
| 8 څراغه 8 ساعته د ورځې 18€<br>12څراغه 6ساعته د ورځې ?<br>8څراغه 8 ساعته د ورځې 18€<br>1څراغه 8 ساعته د ورځې 8 -مه برخه<br>12څراغ 8 ساعته د ورځې 12 څله ډېر<br>12څراغه 1 ساعته د ورځې 8-مه برخه<br>12څراغه 6 ساعته د ورځې 6 څله ډېر<br>$\frac{18\,€ \cdot 12 \cdot 6}{8 \cdot 8} = 20{,}25\,€$ | هرڅومره زیات څراغونه، همغومره زیات یورو.<br>لاس ته راځي: متناسب.<br>هرڅومره د ورځې لږ ساعتونه، همغومره لږ یورو.<br>متناسب |

که 12 څراغونه 6 ساعته وسوزي، نو د میاشتې € 20,25 یورو باید تادیه کړي یا ورکړي.

پنځلسم –

یادونه: په لاندې کې د الماني پښتو:

